د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 485**

(14 - 20 اسد 1404 هـ ش)

## د برېښنا د تولید په برخه کې لس ملیارده پانګونه؛ د اقتصادي او سیاسي اغېزو ارزونه

---




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د برېښنا د تولید په برخه کې لس ملیارده پانګونه؛ د اقتصادي او سیاسي اغېزو ارزونه ................3
- د پروژې پېژندنه.................................................................................3
- اقتصادي اغېزې ................................................................................4
- سیاسي اغېزې ..................................................................................5
- پایله ..................................................................................................6
- وړاندیزونه .........................................................................................7
- سرچینې ............................................................................................8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د برېښنا د تولید په برخه کې لس ملیارده پانگونه؛ د اقتصادي او سیاسي اغېزو ارزونه

### مقدمه

برېښنا د هېوادونو اقتصادي پیاوړتیا، دفاعي او صنعتي ودې، ټولنیز پرمختگ او سیاسي ثبات لپاره اساسي عنصر گڼل کېږي. افغانستان چې له لسیزو جگړو تازه را وتلي او دې جگړو او سیاسي بې ثباتیو یې ډیرې زېر بناوې کمزورې کړي او له بله لوري یې واکمنو حکومتونو ته د دې فرصت نه دی پیدا شوی چې په دې برخه کې د پام وړ بنسټیز او دوامداره پرمختگ وکړي؛ نو ځکه لا هم خورا اقتصادي ستونزو سره مخ دی او د انرژۍ د تولید پراخو سرچینو ته اړتیا لري. د هېواد د مرکز په گډون ډیری ښارونه او کلیوالي سیمې یا خو په بشپړ ډول له برېښنا څخه بې برخې دي او یا هم ناسم او بې باوره برېښنا ته لاسرسی لري. په افغانستان کې د دویم ځل لپاره د اسلامي امارت د واکمنېدو وروسته چې په هېواد کې امنیت او ثبات قایم شوی دی؛ نو ځکه افغان پانگوال میرویس عزیزي له لوری د برېښنا د تولید په برخه کې د لس ملیارده ډالرو پانگونې هوکړه شوې. په دې تحلیل کې به د دې ستړې پانگونې سیاسي او اقتصادي اغېزې وڅېړل شي، سربېره پر دې به د دې پروژې د پلې کېدو پر وړاندې شته خنډونه تحلیل او حل لارې به ورته په گوته شي او په پای کې به اړوند ذیصلاح ادارو ته د دې پروژې د ښه تطبیق په اړه وړاندیزونه وشي.

### د پروژې پېژندنه

د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د زمري میاشتې په ۱۱مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د افغانستان اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت ترمنځ د لس میلیارد ډالرو په پانگونې سره د لس زره میگاواټه برېښنا د تولید، لېږد او ویش په برخه کې تفاهم‌لیک لاسلیک شو چې پر اساس به یې د عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت به د هېواد په مختلفو برخو کې له گازو، ډېروسکرو، اوبو، باد او لمر څخه لس زره میگاه واټه برېښنا تولید کړي. دغه پروژه به د ۷ کالو تر لسو کالو په موده کې بشپړه شي او د برېښنا په برخه کې به افغانستان نه یواځې په ځان بسیا شي بلکې نورو هېوادونو ته به یې هم صادره کړه. د لس زره میگاواټه برېښنا څخه به څلور زره میگاواټه برېښنا عامو هېوادوالو او شپږ زره میگاواټه به صنعتي فابریکو ته ځانگړې شي.[1]

د دې پروژې تخنیکي ډیزاین به تر راتلونکو شپږو میاشتو بشپړ شي او د پروژې په لومړي پړاو کې به له ۲ تر ۳ زره میگاواټه برېښنا د تولید چارې پیل شي او عملي چارې به یې په راتلونکې ۲۰۲٦ زېږیز کال کې پیل او تر ۲۰۳۲ زېږیز کاله به دوام وکړي، چې په ترځ کې به یې د تولید لپاره ځانگړې شوې برېښنا د منابعو پر بنسټ په لاندې ډول تولید شي.

1. په بلخ، باميان، هرات او بغلان ولايتونو کې له ډبرو سکرو ۳ زره او ۴۰۰ ميګاواټه برښنا.
2. په جوزجان، هرات او شمالي زون کې له ګازو ۳ زره او ۷۰۰ ميګاواټه برښنا.
3. په کابل، کاپيسا او دايکندي ولايتونو کې له اوبو ۲ زره او ۴۰ ميګاواټه برښنا.
4. په هرات او فراه ولايتونو کې له باد څخه ۷۰۰ ميګاواټه برښنا.
5. کابل، کندهار او غزني ولايتونو کې له لمريزې انرژۍ ۲۰۰ ميګاواټه برښنا.[2]

## اقتصادي اغېزې

په کور دننه د برېښنا توليد د هر هېواد پر اقتصادي او صنعتي پراختيا مثبتې اغېزې کوي، د عزيزي شرکت له لوري د دې سترې پانګونې نه يوازې د انرژۍ د توليد په برخه کې ستر فرصت بلل کېږي؛ بلکې لاندې نورې مثبتې اغېزې هم کوي.

**۱ ـ د انرژۍ د توليد په برخه کې د ځان بساينې مرحلې ته رسېدل:** په افغانستان د لويديځو هېوادونو په ملاتړ رامنځته شوې حکومت د شلو کالونو په اوږدو کې په ملياردونو ډالر مصرف وکړ؛ خو بيا هم تر دې دمه د افغانستان ۷۰ سلنه برېښنا د ازبکستان، تاجکستان، ايران او ترکمنستان هېوادونو څخه واردېږي.[3] دغه برېښنا نه يوازې داچې د ټول افغانستان لپاره کافي نه ده، بلکې د وخت ناوخته پرېکېدو او د بيعه له اړخه خورا لوړ قيمت لري؛ د دې پروژې پلې کېدو سره به دغه ستونزه نه يوازې هواره شي بلکې افغانستان به وکولای شي چې نورو هېوادونو ته برېښنا صادره کړي او له دې سره به د ملي عايد د زياتوالي په برخه کې مثبت ګام پورته شي.

**۲ ـ افغانستان ته د کورنيو او بهرنيو پانګه والو پاملرنه زياتېدل:** دا پروژه چې ستره پانګونه پرې ترسره کېږي؛ د افغانستان د سياسي ثبات او د پانګونې او د پانګوالو د ملاتړ په برخه د اسلامي امارت پرېکنده دريځ روښانه کوي؛ نو ځکه د دې پروژې پلې کېدل به نور پانګوال که هغه بهرني دي او يا کورني، په افغانستان کې به پانګونې ته لېواله پيدا کړي او خپلې پانګې به افغانستان کې په کار واچوي. په دې سره به نه يوازې داچې د مالي او محصول له لوري دولت اقتصادي ګټه ترلاسه کړي بلکې ډېرى خلکو ته به په مستقيم او غير مستقيم توګه د کار زمينه برابره شي. يوازې پورته ياده شوې پروژه کولای شي چې ۱۵۰ زره تنو ته کاري فرصت برابر کړي، د دې شرکت د رييس ميرويس عزيزي په وينا د دپروژې ۹۸ سلنه کارکوونکي به افغانان وي او د کارکوونکو د ظرفيت لوړونې په موخه به يو مرکز هم په افغانستان کې جوړ کړي.[4]

**۳ ـ د صنعتي سکتور، کوچنيو کاروبارونو، کرنې او اوبو لګولو عصري کېدل او پراختيا:** د افغانستان صنعتي سکتور په برخه کې ډېرى فابريکې لرونکي د برېښنا له کمښت شکايتونه کوي؛ دغه پروژه چې ٦ زره ميګاواټه برېښنا يې د صنعتي فابريکو لپاره تخصيص شوې.[5] کولای شي چې په دې برخه کې د فابريکه

لرونکو ستونزې هوارې کړي او په پای کې به د فابریکو د تولید په کیفیت او کمیت مثبتې اغېزې وکړي. سربېره پردې د برېښنا موجودیت خلک هڅوي چې کوچني کاروبارونه پیل کړي چې پر اساس یې نه یواځې داچې د کوچنیو کاروبارونو مالکان بلکې دولت د مالیې له اړخه او عام خلک د دندو د پیداکولو او خدماتو له اړخه ترې هم ګټه پورته کوي. همدارنګه داچې پرمختللی زراعت او اوبه لګول برېښنا ته اړتیا لري نو دغه پروژه به تر ډېره بریده د بزګرانو ستونزه حل او عصري کرنې او اوبو لګولو ته لاره هواره کړي او پر دې اساس به د بزګرانو د تولید د کیفیت او کمیت په برخه کې چې نه یواځې د دوی پر ژوند بلکې د هیواد په ملي اقتصادي مثبتې اغېزې لري د پام وړ بدلون راشي.

**۴ـ د افغانیو په ثبات کې مثبت رول ترسره کول:** د دې پروژې لګښت لس ملیارده امریکایي ډالر کېږي، د پیسو د تبادلې مارکېټ ته په تدریجي توګه د دې لوړ مقدار ډالرو راتلل حتمي دی چې د افغانیو د بیعو په ثبات کې مثبتې اغېزې کوي. که څه هم د دې پروژې ډېری پانګه بهرنیو هېوادونو ته د ماشینری او اړوند وسایلو د پلورلو په موخه ورځي؛ خو بیا هم هغه مقدار چې افغانستان ته په مستقیمه توګه راځي؛ د افغانیو په ثبات مثبتې اغېزې کوي.

## سیاسي اغېزې

دغه پروژه تر ډېره بریده اقتصادي اړخ لري خو داچې اقتصاد او سیاسیت یو پر بل متقابلې اغېزې لري؛ نو په سیاسي برخه کې دغه پروژه هم له خورا مثبتو اغېزو خالي نه ده. د دې پروژې د پلې کېدو پر اساس نړیوالو ته د اسلامي امارت پیاوړتیا لا څرګندېږي چې کولای شي لویې اقتصادي برنامې پلې کړي او نړیوالو ته په غیر مستقیم ډول پیام استول کېږي چې افغانستان د پانګونې لپاره پرانېستی هېواد دی، دغه چاره د اسلامي امارت نړیوال مشروعیت ته لار پرانېزي. څکه چې په نړیوال مشروعیت یا رسمیت پېژندنه کې یو شرط د حکومتونو ثبات دی، د دې پروژې په لاره اچول د اسلامي امارت د ثبات څرګندونه کوي او لېرې نه دی چې په رسمیت پېژندنه په مثبتې اغېزې وکړي. له بله اړخه ددې پروژې پلې کول د اسلامی امارت کورنی باور او ملاتړ لا زیاتوي، دغه پروژه چې پر اساس یې کاري فرصتونه برابرېږي او د کاري فرصتونو پیداکېدل د حکومتونو د ملاتړ او د شخړو مخنیوي کوي؛ نو پر دې اساس خلک هڅول کېږي چې د حکومت ملاتړ وکړي. له بله اړخه د برېښنا ستونزې په پای ته رسیدو سره بهرني پانګه وال په افغانستان کې پانګونې ته لېواله کېږي او پر دې اساس د افغانستان د سیمه ییزو او نړیوالو اړیکو د پراختیا لپاره هم فرصت برابروي.

**د پروژې د پلې کېدو پر وړاندې خنډونه:** افغانستان تازه له جنګ څخه راوتلی هېواد دی؛ نو په داسې یوه هېواد کې د دې لویو پروژو پلې کول د یو شمېر ستونزو او مشکلاتو سره مخ کېدای شي او دغه ستونزې د حل عملي تدابیرو ته اړتیا لري که چېرې په سمه توګه مدیریت نه شي نو دا پروژه به له ګواښ سره مخ شي او یا داچې پلې کېدل به یې ستونزمن کړي. د بېلګې په توګه افغانستان د لوړ ظرفیت لرونکو تخینکي او

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

انجنیري پوهانو سره مخ دی، عصري او پرمختللې ماشینرۍ یا نشته او که وي هم ډېره کمه ده، د افغانستان له جغرافیا سره د بهرنیو کارمندانو لېوالتیا او دلته د ژبې ستونزو موجودیت هم یوه ستونزه ګڼل کېږي، د اداري او رسمي طی مراحلو پیچلتیا او نړیوال بانکي نظام ته د افغانستان نه لاس رسی د هغه مهمو ستونزو څخه دي چې د دې پروژې پر وړاندې پراته دي. سربېره پر دې که دا پروژه پای ته ورسېږي؛ نو بیا هم په ټول هېواد کې د برېښنا د لېږد او وېش منظم سیستم چې دغه لوړ مقدار په ټول هېواد کې وویشي تر دېره دمه نشته او جوړول یې خورا لوړو لګښتونو ته اړتیا لري.

سره له دې چې دغه پروژه په اقتصادي لحاظه یو تاریخي پروژه ګڼل کېږي نو ددې لپاره چې په بریالېتوب ترسره شي نو اسلامي امارت باید د دولتي چارواکو، خصوصي سکتور، تخنیکي متخصصین او پوهانو یو ګډه کمېټه جوړه کړي ترڅو هره نوې رامنځته کېدونکې ستونزه مشخصه او د حل علمي ـ تخنیکي او عملي لاره ورته پیدا او له اړوند مسولینو سره یې شریکه کړي، ځانګړي امنیتي ځواکونه د د دا ډول پروژو د ساحو، کارکوونکو، تجهیزاتو ساتنې لپاره رامنځته کړي، د برېښنا انرژۍ او انجنیري په برخه کې د په کور دننه او بهر د روزنیزو لنډمهاله پروګرامونو فرصتونه برابر کړي ترڅو د بهرنیو متخصصینو تجربې له نړیوال معیار سره سم افغانستان ته ولېږدول شي. د پروژې د ښه پلي کېدو او په اړونده برخه کې د فساد د مخنیوي لپاره د ځانګړې اداره رامنځته کړي ترڅو د څارنې او ارزونې اغېزمنه چاره ترسره کړي او  سربېره پر دې د دولتي اداري او حقوقي پروسې د چټکې کړي ساده کړي، ترڅو نه یواځې دغه پروژه بلکې نورې پروژې هم په اسانۍ سره ترسره او پلي شي.

یو بله موضوع چې دلته یې یادونه اړینه ده؛ هغه داده چې که چېرې دغه پروژه بریالۍ شي؛ نو په دې صورت کې به د افغانستان د برېښنا اړتیا پوره شي او  تر ډېره بریده به کورني او بهرني شرکتونه په افغانستان کې د برېښنا په برخه کې پانګونې ته زړه ښه نه کړي؛ نو د برېښنا په برخه کې دغه ډول پانګونه د یو شمېر شننونکو له نظره انحصاري پانګونه ګڼل کېږي؛ که چېرې د برېښنا دغه پروژه په خو برخو وېشل شوې وه، د بېلګې په توګه یو شمېر شرکتونو په بادي برېښنا، یو شمېر په اوبه ییزه برېښنا،  یو شمېر په لمریزه برېښنا او یو شمېر نورو د ډېرو سکرو او ګازو پر اساس د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه کړې وه؛ نو په دې صورت کې به له یوه لوري د شرکتونو ترمنځ د باکیفته کار د ترسره کولو او له بله لوري د پروژې د ژر پای ته رسیدو په برخه کې سیالۍ ترسره شوې وې او  د افغانستان لپاره به مطلوبه موخه په ښه شکل ترلاسه شوې وه.

**پایله**

په افغانستان کې د عزیزي خصوصي شرکت د انرژۍ پروژه د افغانستان د انرژۍ سکتور په برخه کې د اسلامي امارت لویه لاسته راوړنه ګڼل کېږي. د دې پروژې پلې کېدل د افغانستان د برق ستونزه که هغه د صنعت په برخه کې ده او یا د عامو خلکو د ګټې اخیستنې په برخه کې ده هواروي. د پروژې د پلې کېدو په



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

صورت کې به ډېرى پانګه وال په افغانستان کې پانګونې ته لېواله شي او پر دې اساس به تر يوه بريده په افغانستان کې د بيکارۍ کچې کمولو برخه کې اغېزمن ګامونه پورته شي. سربېره پر دې دا ډول لويو پروژو پلي کول د افغانستان اسلامي امارت په سياسي ثبات، د امنيت پر پياوړتيا او ان د سيمه ييزو او نړيوالو اړيکو د پراختيا سربېره د کورني او نړيوال مشروعيت او ملاتړ مثبتې اغېزې کوي. که څه هم د دې پروژې د پلي کېدو په برخه کې د ماهرې او متخصصې بشري قوې، نړيوالو اقتصادي او سوداګريزو سازمانونو ته د افغانستان د لاس رسي محدوديت، د پرمختللو وسايلو محدود شتون او ورته نور خنډونه شته؛ خو اسلامي امارت کولای شي چې د يوه اغېزمنې برنامې د رامنځته کولو پر اساس دغه ستونزې پای ته ورسوي او نوموړې پروژه په برياليتوب سره بشپړه کړي.

**وړانديزونه**

د دې تحليل په وروستۍ برخه کې لاندې وړانديزونه لرم هيله ده چې په نظر کې ونيول شي.

۱ ـ د اسلامي امارت اړوند ادارات او ارګانونه بايد د دې پروژې د څارنې، مديريت او ارزونې په برخه کې يوه مسلکي او په کار پوه ځانګړې ټيم ته دنده وسپاري ترڅو دغه پروژه په داسې شکل ترسره شي؛ چې مقابل لورى د شويو هوکړه ليکونو موادو څخه لاس په سر نه شي او هغه امتيازات چې د عامه ګټو لپاره په نظر کې نيول شوي ترلاسه شي.

۲ ـ اسلامي امارت بايد ددې پروژې د پلي کېدو پر مهال چاپيريال ته د متوجه ګواښونو په اړخه ډېره پاملرنه وکړي، ترڅو مقابل لورى د خپلو ګټو د ترلاسه کولو ترڅنګ چاپيريال ته هم جدي پاملرنه وکړي او ورته زيان ونه رسوي.

۳ ـ اسلامي امارت د دا ډول پروژو څخه لاسته راغلي عوايد په ملي او انکشافو پروژو په عادلانه توګه وويشي؛ ترڅو د افغانستان ټول وګړي چې راتلونکی نسل ته په کې هم پاملرنه شوې وي، ترې په مساوي توګه ګټه پورت کړي.

۴ ـ د اسلامي امارت لوړپوړي چارواکي د د بهرنيو سفرونو په ترڅ کې هلته مېشت افغان او يا بهرني پانګوال وهڅوي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## سرچيني

1 د رياست الوزرا اقتصادي معاونيت، په افغانستان کې د لس ميليارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد تفاهم‌ليک لاسليک شو، د نشر نېټه ۱۱/۵/۱۴۰۴، د لاس رسي لينک:

2 Factcrescendo, افغان سوداګر ميرويس عزيزي په افغانستان کې د برښنا توليد لپاره لس ميلیارده ډالره پانګونه کوي، د نشر نېټه اګست/۲۰۲۵/۴، دلاس رسي لينک:

3 بررسی تحولات افغانستان، خیز افغانستان برای خودکفایی برق روایت سرمایه گذاری ۱۰ ملیارد دالری، تاریخ نشر ۱۳/۵/۱۴۰۴ ، دلاسرسي لينک:

4 سپوتونیک: میرویس عزیزی: با تطبیق پروژه‌های برق، برای 150هزار افغان شغل ایجاد می‌شود، د نشر نېټه: 02.08.2025، د لاس رسي لينک:

5 تفاهم‌نامه میلیاردها دالری تولید برق میان طالبان وعزیزی گروپ، ډي ډبليو، د نشر نېټه: ۱۴۰۴/۵/۱۲، د لاس رسي لينک:

Center for Strategic and Regional Studies

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000